مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړونکی: رڼاګل اریوبزی

۲۰۲۲/۱۰/۲۸

# تمساح (کروکوډ یل) او بیزو

وايي چي په يوه ونه کې چې د يوه سيند په غاړه ولاړه وه، يوه بيزو په خوشالۍ ژوند کاوه. ونې به خوندورې ميوې نيولې او بيزو به دا ميوې په ډيره مينه خوړلې. په سيند کې يو تمساح ( کروکوډ يل ) د خپلې ميرمنې سره اوسيده. تمساح يوه ورځ دسيند له اوبو را ووت اوپه مهربانۍ يې دبيزوسره سترې مشي وکړه او ورته ويې ويل چې:« ښالی بيزو سلام.» بيزو هم يو مهربانه ژوی واو په حيرانتيا يې ځواب ورکړ چې:« سلام، ښاغلی تمساح! په دې ښکلي سهار چرته روان ياست؟» تمساح له د وه ورځو را په دې خوا څه نه و خوړلي، ځکه چې په سيند کې مايان نشته وو او ويې ويل چې:

«ما سهارنی نه دی کړی او وږی يم. ايا ته پوهيږې چې چرته به يو څه خواړه نر لاسه کړم؟» بيزو سخي او د ښه نيت خاوند و، دخپلې ونې يې يو څه تازه ميوه ورکړه چې ويې خوري.

کروکوډ يل له سره ميوه نه خوريو خودا تمساح ډير وږی و اودا ميوه ډيره خوندوره وه، نوځکه يې ټوله وخوړه. د دې خوندورې ميوې سره د بيزو او تمساح ترمنځ خوندوره ملګرتيا پيل شوه. په لمر او هم په باران کې يې هره ورځ سره ليدل، بحثونه يې کول او د مځکې او اسمان په هکله سره ږغيدل. دا يوه بې سارې اوډ يره ټينګه ملګرتيل وه.

په دې وخت کې د تمساح ميرمن په سند کې نور مايان نه ميندل، نوځکه يې دخوړو له پاره څه نه لرل، لوږې واخيسته او ميړه ته يې و ويل چې:« زه غواړم چې دا بيزو وخورم، ځکه نور دلوږې زور نه لرم.» ميړه يې د مايي په شان غلی پاتې شو او دځان سره يې و ويل چې:« ځنګه به دخپل ملګري سره خيانت وکړم؟» دی حيران او پريشان و، ځکه ميرمنې يې له سره بل څه په هکله فکر نه شو کولی، هغه ناروغه وه او ارو مرو يې غوښتل چې د بيزو زړه وخوري. په تمساح خپله ميرمن ډيره ګرانه وه، په ده بيزو هم ډير کران و. هيڅ نه پوهيده چې څه وکړي.

په پای کې تمساح خپل ملګري، بيزو، ته ورغی او ورته ويې ويل چې:« نن زما ميرمنې ستا له پاره يو څه پاخه کړي دي، ماته يې و ويل چې له ځان سره يې کور ته راوله.» بيزو د دې خبرې په اوريدو حيران اوهم ډير خوښ شو . ناڅاپه يې له ونې ټوپ وهل او د تمساح په ملا کيناست. کله چې تمساح دسيند منځ ته ورسيد، خپل ملګري ته يې و ويل چې:

« په دې ډ ير خواشينه يم چې زما مير من تا وژني، دا غواړي چې ستا زړه وخوري.» بيزو ډ ير هوښيار و. بيدرنګه يې ورته و ويل چې:»

دا دې ولې پخوا راته ونه ويل؟ پوهيږې چې ما خپل زړه په ونه کې پرې ايښی دی. اوس مې بايد خپلې ونې ته بيرته يوسې، ترڅو چې زړه مې له ځان سره راوړم.» احمق تمساح نه پوهيده چې ملګری يې ډ ير هوښيار دی. دی بيرته دونې په لور په لامبوشو. کله چي ونې ته ورسيدل، بيزو ناڅاپه ونې ته ټوپ واچاوه او تمساح ته يې و ويل چې:

«اې احمقه تمساخه، دا ځنګه کيدای شي چې زمازړه دې په ونه کې وي. نور په تا باور نه کوم. زه دې وغولولم اوزړه دې رامات کړ. نور نه غواړم چې دخپلې ونې خوږې ميوې درکړم. ورځه ورک شه او بيا هيڅکله دلته را نه شې!»
احمق تمساخ هرڅه له لاسه ورکړل.

پای

Geschichten in Einfacher Sprache



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ